ADMINISTRATION FOR
CHILDREN & FAMILIES
Office of Refugee Resettlement

# د هغو افغانو لپاره امتیازات چه د بشري خواخوږۍ له مخې د امریکامتحده ایالاتو ته راغلي او د اوسېدو لنډمهاله اجازه لري

**ایا تاسو یو د هغو کسانو څخه یاست چې د بشري خواخوږۍ له مخې امریکا ته راغلي یاست او د اوسېدو موقته اجازه لرئ؟**

تاسو کېدای شي دلاندې امتیازاتو دپاره مستحق اوسئ: نقدي مرستې، طبي مرستې، د کار یا وظیفې دپاره اماده کول، په کار یا وظیفه ګومارل، د انګلیسي ژبې زدکړې، او نور هغه خدمات چه د مهاجرو د بیا ځای په ځای کـولو دفتر یې وړاندې کوي. تاسو کېدای شي د آمریکا د فدرال حکومت لومړني مرستو دپاره هم مستحق اوسئ، لکه د مالي عاید کمکي مرستې، او یا د ضرورتمندو کورنیو سره موقتي مرستې، د مېډیکېډ تر پروګرام لاندې صحي بیمه، او د تغذیې تر پروګرام لاندې د خوراکي یا غذایي موادو مرستې. د دې سند تمرکز یا توجه پر هغو مرستو ده چه د مهاجرو د بیا ځای په ځای کـولو دفترلخوا وړاندې کـیږي. یو شمېر هغه افغانان چه د بشري مرستو پر اساس د امریکامتحده ایالاتو ته راغلي او د اوسېدو موقته اجازه لري کېدای شي د مهاجرو سره د مرستو د محلي ادارو یا موسساتو څخه مرستې ترلاسه کړي. د مهاجرو سره د مرستندویه محلي ادارې یا موسسات د لاندې انترنیتي ادرس یا لینک په لیدو سره موندلی شئ
https://www.wrapsnet.org/afghans-granted-humaniterian-parole/

**هغه افغانان څوک دي چه د بشري مرستو پر اساس د امریکامتحده ایالاتو ته راغلي او د اوسېدو موقته اجازه لري؟**

هغه کسان چې د دوی د اړتیا له مخې او د همکارانو د مهاجرت او د همکارانو د بنه راغلاست د عملیاتونو په ترڅ کې راوستل شوی دی او د امریکا د کورنیو امنیت اداري لخوا یوشمېر افغانانو ته د بشري مرستو پر اساس د امریکامتحده ایالاتو ته د راتلو او د اوسېدو موقته اجازه ورکړل شوې او یا به ورکړل شي. هغه افغان مهاجرین چه د دې پروګرام له لارې د ۲۰۲۱ کال د جولای د میاشتې ۳۱ نېټې څخه تر ۲۰۲۲ کال د سپتمبر تر ۳۰ نېټې پورې امریکا ته راغلي او یا راشي د فیډرالي حکومت مرستو، د بیا ځای پرځای کـېدلو مرستو، او نورو موجوده مرستو ته د ۲۰۲۳ کال د مارچ د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې او یا د دوی د اوسېدو د اجازې تر ختمېدو پورې مستحق دي (له دې دواړو نیټو څخه هر یوچې وروسته وي). د دغو کسانو مېرمنې، مېړونه او اولادونه هم چې د ۲۰۲۲ کال د سپتمبر د ۳۰ نېټې څخه وروسته راغلي دي د امتیازاتو لپاره د درخواست ورکولو مستحق دي

**وروسته له هغې چه امریکا ته راورسیږم بیا په کوم ځای کې زه د مهاجرو د بیا ځای په ځای کـولو د دفتر یا(او آر آر) مرستو غوښتنه کولی شم؟**

د مهاجرو د بیا ځای په ځای کـولو دفتر ایالتي حکومتونو، د بیا ځای په ځای کـولو موسساتو او په محلي کچه نورو غیر دولتي موسساتو ته بودجه ورکوي چه مستحقو کسانو ته امتیازات او مرستې برابرې کړي. کله چه تاسو په امریکا کې د اوسېدو موقته اجازه ترلاسه کړئ، نو بیا د خپل ایالت د مرستو (امتیازاتو) دفتر او یا د بیا ځای په ځای کېدو نږدې موسسې ته درخواست وکړئ. د لاندې انترنیتي آدرس یا لینک په لیدو سره د خپل ایالت کې د بشری مرستو موسساتو نوملړ یا لست ترلاسه کولی شئ
https://www.acf.hhs.gov/orr/grant-funding/key-state-contacts

**زه باید څه وخت د مهاجرو د بیا ځای په ځای کېدو د دفتر امتیازاتو او مرستو ته درخواست وکړم؟**

همدا اوس، انتظار مه باسئ، ستاسو لپاره امتیازات او مرستې د یوې محدودې مودې دپاره دي. د مهاجرو د بیا ځای په ځای کـولو د دفتر نقدي او صحي مرستې ستاسو د مستحق کېدو د وخت نه تر حد اکثر ۱۲ دولسو میاشتو پورې موجودې دي. د اکثرکسانو لپاره د کار کولو خدمات او نورې مرستې چه هدف یې له اقتصادي پلوه په پښو درېدل یا پر خپل ځان بسیا کېدل دی. د دغو مرستو موده د ۲۰۲۳ کال د مارچ د میاشتې تر ۳۱ او یا ستاسو د استوګنې د مودې تر ختمېدو پورې ده. هر یو چې وروسته وي.

**زه باید د ځان سره کوم اسناد راوړم؟**

تاسو باید د ځان سره خپله امریکا ته د داخلېدو او د اوسېدو د موقتي اجازې (پېرول) سند چه په کومه نېټه درکول شوی راوړئ. د کورنۍ هر غړی چې د مرستو غوښتونکی وي باید خپل اسناد او په کومه نیټه چې دوی ته د بشري خواخوږۍ مؤقته اجازه ورکړل شوی ده له ځان سره ولري. هغه اسناد چې ستاسو د قانوني استوګنې ثبوت کېدای شي هغه د ای-۹۴ فورمه، خارجي پاسپورټ چه د امریکا د کورني امنیت یا د سرحدي او ګمرکي اداري ( د "او، اې، ار" یا "او، اې، ډبلیو" OAW/OAR) ټاپه پرې لګېدلې وي.

---

۱ یواځې هغه کسان چې د بشري خواخوږۍ موقته استوګنې د مستحق کیدلو نیټه یې د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر د میاشتې ۱ لومړۍ او یا له دی نیټې وروسته وي، تر ۱۲ دوولسو میاشتو پورې د مهاجرو د بیا ځای په ځای کـولو دفتر د نغدي و طبي مرستو مستحق شمیرل کیږي. هغه کسان چې د بشري خواخوږۍ موقته استوګنې د مستحق کیدلو نیټه یې د ۲۰۲۱ کال د اکتوبر د میاشتې ۱ لومړۍ نیټې څخه مخکې وي، هغوی لپاره دا مرستې تر ۸ اتو میاشتو دي.

**د یو افغان په صفت چه امریکا کي د موقت ډول د اوسېدو اجازه لرم کوم امتیازات او مرستې ترلاسه کولی شم؟**

د بشری مرستی د موقت استوګنی اجازه لرونکو یا (پیرول Paroleڅخه بعضي کسان یا کورنی د دی مستحق دي چه په خپل ایالت کي د فدرالي حکومت لومړنی مرستي یا د ضرورتمنو کورنیو دپاره موقتي مرستي، د مېډيکېډ لخوا صحي بیمه او د خوراکي موادو مرستو دپاره درخواست ورکړي

**د مهاجرو د بیا ځای په ځای کېدو د دفتر لومړنی مرستې/ امتیازات (د مستحقینو لپاره تر ۱۲ دوولسو میاشتو)**

**د مهاجرو سره نقدي مرستې (ار، سي، اي)**

هغه څوک چه د فدرالي حکومت اضافي مرستو یا د ضرورتمنو کورنیو دپاره موقتي مرستو ته مستحق نه وي، کیدای شي نقدي مرستي ترلاسه کړي. د مستحق کیدو د نېټې څخه تر ۱۲ دوولسو میاشتو پورې کیدای شي دغه مالي مرستي ترلاسه کړي چه خپل ابتدای ضرورتونه پرې رفع کړي، لکه خوراک، اوسیدلو ځای او تګ راتګ یا ترانسپوت.

**د مهاجرو د بیا ځای په ځای کېدو د دفتر د نورو موازي یا برابرو مرستو پروګرام(مچنګ ګرنت).**

بعضي مهاجر کولی شي چه د مهاجرو د بیا ځای په ځای کېدو د دفتر د نورو موازي یا برابرو مرستو پروګرام کي شامل شي چه ژر وکولی شي د مالي یا د عایداتو په لحاظ پر خپلو پښو ودرېږي. د برخمن کیدو شمېر د موقعیتونو په اساس محدودي دي. دا پروګرام نقدي مرستي، د ضرورتمنو اشخاصو دپاره د دوامدارو مرستو د مدیریت چاري، او د کار موندلو د خدماتو په پروسه کي مرسته کوي تر څو ګډونکونکي ژر کار پیدا کړي اوپه کار یا دنده پاتي شي (حفظ کړي). د دي پروګرام هدف دادی چه ګډونکونکي وکولی شي چه په ۲۴۰ ورځو کي په مالي یا د عایداتو په لحاظ پر خپلو پښو ودرېږي. د قانوني اوسېدو د اسنادو ترلاس راوړلو وروسته ژر تر ژره په دي پروګرام کي ګډون وکړئ (شامل شئ)

**د مهاجرو دپاره صحي مرستې (ار، اي، ایم)**

هغه څوک چه د میډیکېډ صحي بیمي ته مستحق نه دي، کېدای شي د راتګ د نېټي څخه یې تر ۱۲ دوولسو میاشتو پورې د مهاجرو دپاره صحي مرستي (ار، اي، ایم) ترلاسه کړي. (ار، اي، ایم) لکه د میډیکېډ صحي بیمه، یوشان صحي بیمه او خدمات وراندي کوي

**خدمات:** (د ۲۰۲۳ میلادی کال د مارچ د میاشتي تر ۳۱ نیټي او یا د قانونی اوسیدو د نیټي تر ختمیدو هره نیټه چي وروسته وي)

**دکار موندلو خدمات: د مهاجرو کمکي/حمایوي مرستي**

هغه افغان مهاجر (چې د اوسېدولنډمهاله اجازه لرونکي دي) کېدای شي د مهاجرو کمکي/حمایوي مرستو(ار، ایس، ایس) ته لاس رسی ولري تر څو د کارموندلو خدمات ترلاسه کړي. (ار، ایس، ایس) د کار موندلو په برخه کي، د کار یا وظیفي دپاره د اماده کولو د پاره تعلیمات، د کار موندلو په لټولو کي، په کار ګومارل او په کار کي د دوامداره پاتي کیدو په برخه کي مرستې کوي. همدارنګه د انګلیسي ژبې په زده کولو، د ماشومانو پاملرنه، د ترانسپورت، او د ضرورتمنو اشخاصو د پاره د دوامدارو مرسستو د مدیریت په برخه کی مرسته کوي.

**د مهاجرت اړوند حقوقي مرستی.**

د بشري مرستو له مخي د لنډمهاله استوګن اجازه لرونکي افغانان کیدای شی د مهاجرت اړوند حقوقي مرستو او پدي اړه نورو اړونده فعالیتونو متسحق وي، تر څو دوی سره مرسته وشي چي په امریکا کي د قانوني دایمي استوګني لاس ته راوړو لپاره لاره هواره شي.

**ځانګړي یا تخصصي پروګرامونه**

کیدای شي چه یو شمېر ګډونکونکي ځانګړي یا تخصصي پروګرامونو لکه صحي خدمات، د کوچنیو کاروبار یا وړوکي تجارت پیلولو دپاره تخنیکي همکاری، مالي سپما (پس انداز)، د ځوانانو روزنیز لاربشود، او نورو موخه ایزو (هدفمند) پروګرامونو مستحق اوسیږي.